بودجوي واحدونه د ملي بودجې تر تصويب وړاندې د تشکيلاتي جوړښتونو د طرحو په ارائه کولو مکلف دي



کابل – ۱۵ لیندۍ 1395

د ملي شورا له لوري د ۱۳۹۶کال ملي بودج پې سند له تصو يب سره هممهاله د خپلواکو بودجوي واحدونو له لوري د تشک يلاتي جوړښتونو بشپړولو په اړه د جمهوررئيس د حکم عملي کولو لپاره ، د دولتي ادارو د استازو په ګډون د همغږۍ غونډه په دوو ورځو کې د جمهوري رياست په چارو اداري کې ترسره شوه.

د جمهوررئيس محمد اشرف غني د حکم په اساس ټول وزارتونه او خپلواکې بودجوي اداري مکلفې دي ، چې د ملي شورا له لوري د ملي بودج پې سند له تصو يب سره هممهاله ، د تشک يلاتي جو ړښتونو نها يي طرح پې بشپړې کړي ،څو په ۱۳۹۶ مالي کال کې د تشکيلاتي جوړښتونو له ستونزو سره مخ نه شي.

همداراز د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسيون مکلف شوی ، چې د تشکيلاتي جوړښتونو طرحو جوړولو په بهير کې له ادارو سره همکاري وکړي او دغه طرحې د تاييد لپاره د جمهوري رياست د چارو اداري عمومي رياست ته وسپاري.

د جمهوري رياست د چارو اداري د نظارت ، ارزونې او پلټنې مرستيال عبدالسبحان رؤوف په د ې غونډه کې وويل ، چې دولتي اداري د روان کال د مرغومي م ياشتې تر لوم ړۍ رېټې وخت لري ، چ ې د خپلو تشک يلاتي جوړښتونو طرحې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسيون سره شريکې کړي او دغه کمېسيون به تر ارزونو وروسته دغه طرحې د جمهوري رياست د چارو اداري ته سپاري.

ښاغلي رؤوف د اداراتو په تشکيلاتي جوړښتونو کې ستونزو ته په اشارې ووېل: ملي وحدت حکومت هو ډ لري ، چې د تشکيلاتي جوړښتونو ستونزه پر وخت حل کړي.

هغه زياته کړه: هغو وزارتونو او خپلواکو بودجوي واحدونو چې پر وخت خپلې تشکيلاتي طرحې شريکې نه کړای شوې ، جمهورريئس ته په ځواب ويلو مکلفې دي.

د غونډې په دوام ، د ملکي خدمتونو ادارې عمومي رئيس احمد مسعود توخي ووېل: د ملي شورا له لوري د ملي بودجې سند له تصويب سره هممهاله د تشکيلاتي جوړښتونو ستونزې حلول ، زمور په کاري لومړيتوبونو کېځای لري.

ښاغلي توخي وويل: له کتلوي بېکاری بايد مخنيوی وشي او تشکيلات بايد د منلو ور سقف په چوکاټ کې ، تنظيم شي.

د غونډې بکډونوالو د جمهورريئس د حکم هرکلی وکړ او ژمنه يې وکړه ، چې په ټاکلي وخت کې به ، د خپلو ادارو د تشکيلاتي جوړښتونو طرحې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسيون ته وسپاري.

#